مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور
۲۰۲۶/۰۱/۲۵

# د سیاحت بیا، بیا عمرې به دې قبولې نهشي

چې د حوا د لور لاسونه پښې وي یخ وهلې
د آ د تودې کوټې سجدې به دې قبولې نه شي

چې دې په لاره وي لسګونه خویندې ورې ناستې
د سیاحت بیا، بیا عمرې به دې قبولې نهشي

چې د ګاونډ د ماشوم سوې چیغې نه اورې پرې
دا د کڼو غوږو توبې به دې قبولې نشــي

دا چې له شوقه یې د وزن کمېدو ته نیسې
دا د مړې ګېډې روژې به دې قبولې نشي

د واورو منځ کې چې انسان باوره ورې پرېږدې
دا د سؤچه مومن پېښې به دې قبولې نشي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولـئ